# د سیده بشریٰ بېګم
# په شاعری کښې د زنانه ؤ سماجي او نفسیاتي مسلو یوه څېړنه

# "AN ANALYSIS OF WOMEN'S SOCIAL AND PSYCHOLOGICAL PROBLEMS IN THE POETRY OF SYEDABUSHRA BEGUM."

Dr. Shukria Qadir*

**ABSTRACT**

Syeda Bushra Begum is a renowned feminine figure of Pashto literature who is well known due to her poetic name (famous as ''Seen bay bay'') in Pastho literary chains. Although she has contributed a lot in her mother tongue by writing prose to her, which have been published in different journals and newspapers, yet she earned the fame due to her poetry as she is basically a poetess. In the field of poetry, she expressed her thoughts in various forms of poem. Enormous subjects have been treated in her poems. These subjects are related to ethics and reformative issues. She has described social and psychological problems of Pashtoon's women in her poems. The research paper will highlight the thoughts and opinions of the poetess regarding the snags of Pashton's woman facing in her society.

**Key Words:** feminine, Seen bay bay, poetess, ethics and reformative, Pashton's woman

سیده بشريٰ بېګم په ادبي دنیا کښې د س ب ب په نوم پېژندلے شي - دې پښتنې مېرمنې په داسې دور کښې قلم پورته کړے ؤ چې په پښتون سماج کښې د یوې تور سرې د پاره خپل نوم څرګندول هم مشکل کار ؤ ځکه دې مېرمنې د سیده بشريٰ بېګم په ځاے د س ب ب په قلمي نوم شاعري کوله او په ادبي مجلو کښې به ئې چاپ کوله - د س ب ب د کلام ابتدائي نمونې په پښتون مجله کښې چاپ کېدلې او وروستو بیا هغې د خپل کلام مجموعه د "زېرے" په نوم په کتابي شکل هم چاپ کړه - د "زېرے" نومې شعري مجموعې نه علاوه محترم همېش خلیل

---

* Ph.D Scholar Pashto Academy UOP

صاحب د قلم خاوندان کښې د سیده بشريٰ بېگم درې نور ناچاپ کتابونو هم ذکر کړے دے چې نومونه ئې دا دي -

۱) همېشه ګلونه
۲) ښکلې بیبیانې
۳) کورنے حکیم[۱]

س ب ب په خپله شاعرۍ کښې د پښتون اولس سماجي مسئلو او د پښتنو ښځو نفسیاتي رجحاناتو ته هم اشارې کړے دي او په پښتنه تولنه کښې د يوې پښتنې ښځې سیاسي، سماجي ، تعلیمي او مذهبي رجحانات ئې هم څرګند کړي دي - د هغې په شاعرۍ کښې د ښځو د سماجي او نفسیاتي مسئلو د جائزې نه وړاندې د هغې د شخصیت ، او ادبي کارنامو یوه لنډه خاکه هم دلته وړاندې کولے شي -

د س ب ب د ذاتي او شخصي پېژندګلو او ادبي کارنامو په حقله د هغې همعصر لیکوالو او ددې دور څنو نورو ادیبانو ځاے په ځاے لیک کړے دے - په دغو لیکوالو کښې همېش خلیل صاحب په پښتانهٔ لیکوال کښې داسې لیکي: "بشريٰ بېګم د حکیم میا آزاد ګل کره په کال ۱۹۲۲ء د نوښهر تحصیل په "زیارت کاکا صاحب" نومې کلي کښې پېدا شوه - ابتدائي تعلیم ئې پخپل کور تر سره کړو - د اتو کلونو په عمر ئې د قرآن عظیم الشان د ختمولو پس د دیني مسئلو مختلف کتابونه ولوستل - علمي مېدان کښې د خپلو پرله پسې کوششونو په برکت نن زمونږ په مېرمنو شاعرانو کښې د یو ښکاره مقام شاعره ګڼلے شي - د کال ۱۹۳۰ء د آزادۍ تحریک د بشريٰ ملي جذبات راولړزول او د غلامۍ د تورې شپې خلاف د خپلو انقلابي شعرونو په ذریعه ئې د حریت پرستو په وینه کښې د ګرمۍ او جوش په راوستلو اهم کردار ولوبولو - د بشريٰ بېګم کلام به "پښتون" مجله کښې شائع کېدو - په کال ۱۹۳۵ء کښې ئې د شریعت په موضوع خپل وړومبے مضمون پخپل مختصر نوم "س ب ب " شائع شو - د بشريٰ په نظمونو کښې پرته د قومي جذبې ، د انساني ورورولۍ ، مینې ، ښېګړې او خصوصاً د جینکو د تعلیمي او اخلاقي تعلیم او تربیت زور راوړلے شوے دے - دا یوه مستقل مزاجه او دینداره مېرمن وه چې ډېر ساده او بې تکلفه ژوند ئې کولو - د کلام مجموعه ئې اول ځل په کال ۱۹۵۶ء کښې د "زېرے" په نامه شائع شوه - د تپو ګلونه - ښکلې بیبیانې او کورنے حکیم د بشريٰ د ناچاپه کتابونو نومونه دي - د کال ۲۰۰۲ء د اګست په شپاړسمه ورځ وفات شوه -"[۲]

د سیده بشریٰ بېگم د ذاتي ژوند او شخصي پېژندګلو سره سره د هغې په علمي او ادبي خدماتو ښاغلي اخون زاده فرمان مسافر هم په خپل کتاب ځلنده ستوري کښې تبصره کړې ده - هغه دې لړ کښې لیکي: "بشریٰ بېګم د وسیعې مطالعې او لوے علم مېرمن ده - سره د دې چې د ملک د غلامۍ په وجه د دې د تعلیمي عمر په زمانه کښې د ښځو د تعلیم خاص انتظام نۀ ؤ- او نۀ دې د بي - اے او ایم - اے رسمي ډګرې اخستې دي - خو دا هم ددې خوش قسمتي وه چې په یو داسې علمي کورنۍ کښې پېدا ده چې د کاکاصاحب د وخت نه تردې وخته دا کورنۍ د علم و ادب په رڼا روښانه وه - دے د اوه او کالو په عمر کښې قرآن شریف د خپل خاندان د یو لوے عالم سره ختم کړے دے - په ترجمه قرآن شریف او د حدیثونو کتابونه ئې د خپل پلار سره ووئیل - اردو فارسي او پښتو لیک لوست ئې د ډاکټر میا الطاف ګل مرحوم سره زده کړے دے - چې د خپلې زمانې ښۀ عالم او د کپور تهلې د میډیکل کالج سند یافته ډاکټر وؤ - د وخت او زمانې د ناسازو باوجود په کور د ننه عربي ، اردو ، فارسي او پښتو زده کول او په دې څلورو واړو ژبو کښې ژوره مطالعه خالص ددې خپل کوشش وۀ - د دولسو کالو په عمر کښې ئې ورومبے مضمون په "شریعت بِل" په کال۱۹۳۵ء کښې "آزاد پښتون" کښې چاپ شوے دے - او هم د دغې ''آزاد پښتون'' نه راواخله تر اوسه پورې د پښتو هرې رسالې او اخبار سره ئې په نظم او نثر دواړو کښې د پښتو ژبې د خدمت پت پاللے دے - د ملک د آزادۍ د پاره چې دې کوم قلمي جهاد کړے دے - پښتون قوم به پرې تل ویاړ کوي-" [۳]

پروفېسر ډاکټر شاه جهان صاحب په خپل کتاب ''پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه'' کښې د سیده بشریٰ بېګم د ژوند او ادبي پس منظر ذکر په تفصیل سره کړے دے - هغه د سیده بشریٰ بېګم د ژوند ابتدائي دور په حقله داسې لیکي: "دې د اووۀ کالو په عمر کښې قرآن شریف د خپل خاندان یو لوے عالم سره ختم کړو او په ترجمه قرآن شریف او د حدیثونو کتابونه ئې د خپل پلار (میا ازاد ګل کاکاخېل مرحوم) سره اووئیل - اردو ، فارسي او پښتو لیک لوست ئې د ډاکټر میا الطاف ګل مرحوم سره زده کړے دے - چې د خپلې زمانې ښۀ عالم او د کپور تهلې د میډیکل کالج سند یافته ډاکټر ؤ - د سیده بشریٰ بېګم عمر د اووۀ کالو ؤ چې د سرخپوشۍ تحریک ډېر په زور کښې وۀ او د سرخپوشو هر جلسې ته به دا د خپل نیکۀ سره تله او هم په دې کم عمر کښې ئې د ملک و قام سره مینه او د فېرنګیانو نه نفرت پېدا شو - او بیا دا نفرت خو ئې د لیونتوب حد ته اورسېدو - د اتو کالو په عمر کښې دا په ستر شوه او دغه د ملک او قام سره بې پناه مینه وه چې دوي ددې په برکت په کور کښې اردو فارسي او پښتو لیک لوست زده کړو - د

دولسو کالو په عمر کښې ئې وړومبے مضمون په شریعت بل اولیکلو چې په کال ۱۹۳۵ء کښې په ازاد پښتون کښې چاپ شو۔"(۴)

ډاکټر شاه جهان صاحب چې د بشريٰ بي بي د ابتدائي ادبي ژوند تذکره کوي نو ورسره د هغې د څنو لیکونو حواله هم ورکوي او په دغو لیکونو کښې چې بشريٰ بي بي د ښځو او جینکو د تعلیم او په پښتنه ټولنه کښې د ښځو د حقوقو کوم اواز پورته کړے وۀ!: ''د پښتنو جینکو په بې وسۍ ئې په کال ۱۹۳۷ء کښې نامراده جهان ارا نوم افسانه اولیکله۔ چې هم په دغه کال کښې افغان اخبار بمبۍ کښې چاپ شوه۔ دا ددې اخبار اعزازي مدیره هم وه۔ او په دې کښې به ددوي هفته وار مضامین او شعرونه راتلل۔ په دغه زمانه کښې به داسې اخبار او رساله هډو وي نه چې د سیده بشريٰ بېګم د مضمون یا شعر نه بۀ خالي وي۔ د پېښور شهباز اخبار ته ئې هم د ډېرو مضمونونو او شعرونو پیرزوینه کړې ده۔ د چارسدې ازاد پښتون او د اتمانزو پښتون ته خو به ئې د هرې پرچې د پاره څۀ نه څۀ تیارول۔ په ۱۹۴۱ء کښې ئې باقاعده هره هفته د بانګ حرم د خوېندو پاڼې ته قیصې او افسانې لیکلې دي۔ په کال ۱۹۵۶ء کښې ددې د شعرونو مجموعه د زېرې په نوم چاپ شوې ده۔ ددې مجموعې نه علاوه ورسره درې کتابونه نور هم موجود دي۔ ولې د بده مرغه ددې په چاپ کولو دا لابریالۍ شوې نۀ ده۔ په ادبي دنیا کښې دا د س ب ب په نوم پېژندے شي بعضې خلق خو س ب ب او سیده بشريٰ بېګم دوه جدا جدا شخصیتونه ګڼي۔ ولې دا خبره صحیح نۀ ده۔ دا وهم ځکه پېدا شوے وۀ چې د دوي اکثر مضامین او کلام د س ب ب په نوم چاپ شوے دے۔''(۵)

د سیده بشريٰ بېګم د ادبي رجحان ، او علمي خدماتو تذکره ښاغلي سلیم راز صاحب ډېره په تفصیل او وضاحت سره کړې ده او د هغې موازنه ئې د ترکي د نومیالۍ ښځینه لیکوالې خالده ادیب خانم سره کړې ده۔ خالده ادیب خانم هم په خپل دور او خپله معاشره کښې د روشن خیالۍ ، د ښځو د تعلیم او ازادۍ ، د ښځو د بنیادي حقوقو ، سماجي او نفسیاتي مسئلو د ترجمانۍ علمبرداره وه او په پښتون سماج کښې سیده بشريٰ بېګم هم ددغه معیار پښتنه ښځینه لیکواله او شاعره وه۔ ځکه خو ورته سلیم راز صاحب د ازادۍ نغمه ګره وائي او د ترکي د خالده ادیب خانم سره ئې موازنه په دې الفاظو کوي : "د خالده ادیب خانم او سیده بشريٰ بېګم د شخصیت او کردار د مماثلت په حقله زما دې رائې سره که څوک کلي اتفاق ونکړے نو کلي اختلاف به هم ونکړے او که څوک جزوي اتفاق یا جزوي اختلاف ولري نو په شا به ئې د تاریخ او معاشرت فرق هېر کړے وي۔ که خالده ادیب خانم او س ب ب کښې څۀ فرق محسوسېږي نو هغه هم دغه فرق دې۔ باید چې د دواړو مطالعې په وخت مونږ دغه فرق مدنظر وساتو ځکه چې خالده ادیب خانم که خالده ادیب خانم ده نو د خپل عهد ، خپل

سیاست، خپل تهذیب او خپل ماحول په سیاق و سباق کښې ده - او س ب ب که س ب ب ده نو د خپل عهد ، خپل سیاست، خپل تهذیب او خپل ماحول په سیاق و سباق کښې ده - په دواړو کښې که څۀ فرق دے نو د خپل تاریخ ، جغرافیې او سماجي نفسیاتو په نسبت دے ګنې د خپل سوچ ، فکر ، جذبې ، حوصلې او صلاحیت په لحاظ دواړه یو دي هېڅ فرق نۀ لري او د مختلف سیاق و سباق په حواله یا د سیاق و سباق د اختلاف باوجود دواړه د فکر و عمل په مېدان کښې یو شان بلکې یو ښکاري - د دواړو د فکر مطالعاتي تجزیه او تجزیاتي مطالعه دا ثابتوي چې دواړه یو شان د ازادۍ جذبه ، یو شان انقلابي فکر او یو شان اصلاحي پروګرام لري - دواړه یو شان د حالاتو د مقابلې د پاره حوصله او ولوله لري - دا دواړه زنانه د ادب او سیاست په محاذ د خپلو خپلو حالاتو او وسائلو په حواله د نارینه ؤ سره څنګ په څنګ وجنګېدې - او دواړه د قامي آزادۍ د جدوجهد سره سره د زنانه ؤ د حقوقو د حصول او تحفظ بېرغ جګ نیولے هسکه غړې خپل منزل ته ورمخکښې شولې - د دواړو په جذبه ، خلوص ، حوصله ، مقصد او جدوجهد کښې څۀ فرق نۀ ؤ که څۀ فرق وۀ نو د حالاتو او ماحول وۀ د سماجي جوړښت او سماجي نفسیاتو ؤ او هم په دې سبب خالده ادیب خانم که د کوروه بهر رااووته او س ب ب د درشل نه قدم بهر نه کړے شو - خو خپل هدف او مقصد دواړو د نظر نه پناه نۀ کړو او د معروضي حقائقو په رڼا کښې ئې خپلې قومي او تاریخي ذمه وارۍ سر ته ورسولې - او د تاریخ او عصر په مخکښې سرخرو او سرفرازه شولې - س ب ب لکه د خالده ادیب خانم د خپل قام، ملک او تاریخ د اړې کړے او بدلون په یو خاص دور کښې پېدا شوه - لویه شوه او د خپل ملي درد په حواله د خپل سماجي او سیاسي شعور په اظهار او د خپل قلم په زور ئې خپله تاریخي او ملي فریضه سر ته ؤرسوله - او نۀ یوائې په پښتو ادب بلکې په پښتني ثقافت او تاریخ کښې ئې یو د قدر وړ او اوچت مقام حاصل کړو - چې هېڅ یو ادبي نقاد او مورخ ترې د انکار جرات نۀ شي کولې - او د ذکر نه بغیر به ئې زمونږ ادبي تذکرې او تاریخي حوالې نیمګړې نیمه خوا وي۔" (۶)

سلیم راز صاحب د سیده بشرئ بېګم د لیک او شاعرۍ په تناظر کښې د هغې سماجي شعور ته هم اشاره کوي او د پښتنو ښځو د حقوقو د پاره د هغې د پېغام وضاحت هم کوي - هغه وړاندې لیکي: "ددې شلمې صدۍ په دې آخري لسیزه کښې نن زمونږ معاشره ښځو ته خپل بنیادي حقونه نۀ ورکوي - نو خیال پکار دے چې شپېتۀ اویا کاله مخکښې به څۀ قسم ته صورت حال ؤ - هغه وخت د ښځو د حقوقو د پاره اواز پورته کولو هم څۀ معنیٰ لرله - خو س ب ب خپله تاریخي قومي او انقلابي فریضه سر ته رسول د خپل ژوند مقصد ګرځولے ؤ - هغه د آزادۍ د پاره په دوؤ محاذونو جنګېدله یعني په پښتنه معاشره کښې د ښځو د حقوقو جنګ او په قامي سطح د انګرېز د غلامۍ نه

د آزادۍ جنګ او په دې دوارو محاذونو د جنګ منظرنامه کښې س ب ب ټول پښتون اولس یو روښانه خوشحال او آزاد او ترقي پسند مستقبل لیدلو او تاریخ چې د هغې په سر کومه ذمه واري اچولې وه هغې د هغې ژور احساس او شعور لرلو - او دغې احساس او شعور د هغې ارادې او اعصاب فولادي کړے ؤ- هغه چرته هم متزلزل نۀ شوه او دغسې د تاریخ پایه ئې په مخکښې ودیکله -

بشـــــريٰ ســــــرومال دواړه ورتـــــــه کېـــــــړده
کـــه د قـــام خـــدمت پـــرې کېـــږي شـــابه شـــابه"[۷]

په کال ۱۹۵۶ءکښې چې د هغې د کلام مجموعه د "زېرے" په نوم چاپ شوه نو مقدمه پرې د هغې ورور محمد یوسف کاکاخېل ولیکله - میا محمد یوسف کاکاخېل په خپله دغه مقدمه کښې د س ب ب د تعلیم او تربیت او د خپل دور د سماجي حالاتو په حقله تفصیلي خبرې کړے دي او دې لور ته ئې هم اشارې کړې دي چې په داسې ماحول کښې د جینکو او ښځو په روشن فکرۍ او تعلیمي ماحول څومره پابندۍ وې او بیا په داسې ماحول کښې سیده بشريٰ بېګم په کومه طریقه د خپل دور د سماجي حالاتو عکاسي کړې ده او څنګه ئې په داسې سماجي ماحول کښې د ښځو د نفسیاتو ترجماني کړې ده - میا محمد یوسف کاکاخېل د س ب ب او د دغه دور د ښځو د تعلیمي ماحول په حقله لیکلي دي چې: "د والد محترم د روشن خیالۍ او سیاسي فکر او علم دوستۍ دا تقاضا وه چې هغوي د همشیرې د پاره د اعليٰ تعلیم څۀ انتظام کړے وے- ولې د بدقسمتۍ نه د غېر ملکي حکومت په وجه زمونږ نصاب تعلیم د جینکو د پاره موذون نه ؤ - د جینکو اکثرې مدرسې پېرنګیانو د خپل مذهب د خورولو د پاره جوړې کړے وې - په دې وجه د لوڼو تعلیم به په زړه طریقه یا په خپل کور کښې او یا د اخونانو کره کېدۀ - همشیرې د خپل کور دننه اتۀ کالو په عمر کښې قرآن شریف ختم کړو - او دیني مسئلې ئې د پښتو کتابونو نه زده کړې -ددې نه علاوه د همشیرې د پاره د نور تعلیم څۀ انتظام نۀ ؤ- دا خالص د هغې خپل کوشش ؤ چې د اردو فارسۍ لږ ډېر کتابونه ئې هم ولوستل-"[۸]

س ب ب په خپل سماج کښې د ډېرو قدغنونو باوجود د ښځو د نفسیاتو او سماجي مسئلو پېغام وړاندې کولو - د هغې ورور او د زېرے مجموعې مقدمه نګار میا محمد یوسف په دې حقله لیکي: "مشهور متل دے "*مشک آنست که خود ببوید نه که عطار بگوید*" د شاعر د اوچتو خیالاتو او پاکیزه جذباتو اندازه به تاسو خپله ولګوئ ولې په دې کښې خو هېڅ شک نشته چې په زنانه دنیا کښې او خصوصاً د پښتنو ښځو په حقله دا دیوان یو مبارک فال دے - او څنګه چې د نوم نه ئې ظاهره ده - د پښتنو د پاره د بېدارۍ دا پېغام یو زېرے دے - چې محترمې همشیرې خپل قوم ته

راوړے دے -او زما دا یقین دے چې همشیره د هغه خلقو نه ده، د چا کلام چې قوم ته د خپلو کمزورو احساس ورکولو په حقله د بلې ډېوې کار ورکوي -دا ممکنه ده چې په ځنې ځایونو کښې د همشیرې په کلام کښې فني خامۍ پاتې شوې وي -ولې د کومې جذبې د اثر د لاندې چې هغوي شاعري کړې ده -هغه جذبه دومره اوچته او دومره لوړه ده چې داسې خامۍ د هغې په مقابله کښې په نشت حساب دي -د هغوي په دیوان د نظر اچوولو سره دا خبره لکه د نمر راښکاره شي -چې د هغوي په زړۀ کښې د ملکي ، قومي او اخلاقي اصلاح په حقله یوه بې پناه جذبه موجوده ده -او په کلام کښې ئې امتیازي خصوصیت دا دے چې د زنانو د پاره په کښې د ملکي مینې ، قومي محبت او پخپلو کښې د همدردۍ او اخوت یو مستقل سبق پروت دے -چې کوم ئې د فطري شاعرۍ په زور په ډېره مزېداره طریقه پېش کړے دے -امېد دے چې د هغوي د ادبي او قومي خدمت به په پښتو ادب کښې د یو ښائسته یادګار ځاے اونیسي-"(۹)

د جینکو او خوېندو د مسئلو او نفسیاتي رجحان په حقله ئې محمد یوسف کاکاخېل په دې ټکو رقم طراز دے : "دا یوه فطري خبره ده چې هر جنس خپل هم جنس ته زیاته توجه کوي -ځکه همشیرې هم زیات وئیل د خویندو په حق کښې کړي دي -د هغوي د شاعرۍ اهمه موضوع د خویندو تعلیمي ، تمدني او اخلاقي اصلاح ده -اکثر داسې سرخطونه د شاعرۍ په لحاظ ډېر خشک اوناصحانه ښکاري -ولې په کوم خوند سره چې همشیرې دا مسائل پېش کړي دي -هغه د شعري خوبیو نه علاوه د خپل افادیت په لحاظ قابل قدر نمونې دي-"(۱۰)

د سیده بشریٰ بېګم په شاعرۍ کښې د ښځو د نفسیاتي او سماجي مسئلو ترجماني په کوم ډول شوې ده؟ ددې د کلام په رڼا کښې به پرې وروستو بحث کولے شي -في الحال د هغې د ژوند ، ادبي خدماتو او سماجي حالاتو یوه خاکه دلته پېش کړے شوه -

ما په تېر بحث کښې د پښتنو ښځو حیا ، غېرت او جرات ته هم اشارې کړے دي او د هغوي وفا ، ننګ او پښتو باندې مو هم خبره کړې ده -مونږ که د یوې پښتنې ښځې سوچ، فکر، جذبې، احساس او نفسیاتو ته غور وکړو نو د الله پاک نه د دعا په وخت هم د یوې پښتنې ښځې د نفسیاتو او جذباتو اندازه راته کیدلے شي لکه سیده بشریٰ بېګم (س ب ب) چې په خپل دعائیه نظم غوښتنه کښې د خپل رب نه دیوې پښتنې ښځې د پاره دعا غواړي نو په دې ټکو کښې ئې غواړي -

"تــــاوان د ســــر زمــــا د قــــوم میـنـــا تقصــــیر کــــړې رب
پــــه عملــــي رنــــګ کښــــې مــــې جــــوړ د خیــــال تصــــویر کــــړې رب

وینـــې خـــوارک مـــې د صـــورت نـــور څـــهٔ کـــولے نشــم
چـــې ځـــي تـــر عـــرش زمـــا د آه هغـــه تـــاثیر کـــړې رب
لکـــه د شـــمعې مـــې د زړهٔ پـــه کـــور کښـــې اوربلېـــږي
چـــې پروانـــه شـــي پـــرې عـــالم نـــور مـــې تحریـــر کـــړې رب
ســینه مــې چــاک چــاک شــوه فریــاد مــې لــه زړهٔ خېژي پــه دے
لکـــه د بـــاب مـــې جانګـــداز اواز تقریـــر کـــړې رب
پښـــتنې خوئینـــدې مـــې همخیالـــه شـــه چـــې شـــم کامیابـــه
د مقصـــود بـــازم د امېـــد پـــه دام اســـیر کـــړې رب
ښائســـته جـــامې ، پـــوډر سُـــرخي ، ښائســـت د ښـــځو نـــه دے
ښائســـت زمـــونږه ســـادګي خـــوئ دلپـــذیر کـــړې رب
چـــې د عصـــمت څـــادر ئـــې خـــور ؤ پـــه اوږو هغـــه یـــو
پاکـــدامنۍ کښـــې د دنیـــا مـــونږه نظیـــر کـــړې رب
چـــې جـــوړ کـــړے کـــور پـــه زړهٔ د خلقـــو هغـــه ســـوز غوارمـــه
زمـــا د هـــر شـــعر وېنـــا تـــه زړهٔ نخچیـــر کـــړې رب"[۱۱]

پښتنې ښځې دومره جرات او جذبه لرې چې د ښځې ذات هم د وطن په مینه ځان قربانوي ځکه خو د سیده بشريٰ بېګم جذبات او احساسات د وطن په مینه کښې د پښتنو خوېندو د نفسیاتو ترجماني کوي - هغه په خپل نظم " د وطن مینه" کښې دغه جذبات او نفسیات داسې بیانوي -

"زمـــونږ پـــه وینـــو دې تـــازه شـــي اوچ بوســـتان د وطـــن
یـــو ځـــل دې زار پـــه معشـــوقې شـــي عاشـــقان د وطـــن
چـــې ترقـــي د قـــوم وطـــن د ځـــان زینـــت اوګڼـــو
خـــوب د غفلـــت نـــه دې بیـــدارے شـــي زنـــان د وطـــن
نســـلونه واړه آینـــده بـــه محبـــان وي د قـــوم
کـــه پـــه بېـــدارو پئیـــو لـــوے شـــي فرزنـــدان د وطـــن
خوئېنـــدو د رب د پـــاره پـــاڅئ دا دے وخـــت د همـــت
اوګـــورئ څـــومره دي قومونـــه محبـــان د وطـــن
ځـــاے د تعلـــیم دے ســـتا جـــولۍ اے عزتمنـــدې خـــورې
لـــوے هغـــه زوے کـــړه چـــې صـــبا شـــي ســـخندان د وطـــن

ذلـــت غربـــت جهــــل زمـــونږه د عمــــل شـــامت د ے
راځــئ چــې پــوې کـــړو ځــان پــه دې ســود و نقصــان د وطــن
کــه پــه زيــور د قــومي عشــق مــونږه ســنگار جــوړ کــه خپــل
دا مـــې يقـــين د ے نـــور بـــه او نـــه شـــي تــاوان د وطـــن"[۱۲]

سيده بشريٰ بېگم د پښتنو خوېندو ، لوڼو او په مجموعي توګه د پښتنو ښځو د نفسياتي عواملو ترجماني هم کړې ده - هغه د يوې پښتنې لُور ګيله په دې الفاظو بيانوي -

"مـــا چـــې کـــړه خپلـــه مرضـــي وقـــف ســـتا رضـــا د پـــاره
تـــا قربـــاني کړلـــه زمـــا خوشـــي د چـــا د پـــاره؟
دا د بـــې شـــک چـــې مـــور و پـــلار وي مهربـــان لـــه هـــر چـــا
ولـــې بـــې ســـوچ مهـــر دې شـــه آفـــت زمـــا د پـــاره
د لـــــوروزوئ پـــــه درد دردېـــــږي مـــــوروپلار همېشـــــه
زمـــا خـــراب ژونـــد بـــه تکليـــف شـــي آخـــر ســـتا د پـــاره
لکـــه ځـــاروے دې بـــې تپوســـه حوالـــه کـــړم د بـــل
هـــېڅ د آرام کوشـــش مـــې نکـــړې د صـــبا د پـــاره
پښـــتو د کفـــر د ے زنـــار دا مشـــهور متـــل د ے
د جينکـــو خاموشـــي وي د دې حيـــا د پـــاره
د دوو کســـانو همخيـــالي ورمبـــنے شـــرط د ے ضـــرور
ګـــورئ هـــر خيـــال تـــه خپـــل هـــم خيـــال د ژونـــد همراد پـــاره
لـــه ښـــو اخلاقونـــه قربـــان شـــه د قـــارون خزانـــې
د دولتمنـــد انتخـــاب مـــه کـــوئ د چـــا د پـــاره
چـــې خپـــل جـــوهر قابليـــت نـــه وي پـــه چـــا کښـــې موجـــود
هغـــه ځـــوک مـــه اخلـــئ د ښـــې ابـــۍ دادا د پـــاره
دا د دوو کســـو د ژونـــدون تـــړون د ے داســـې تـــړون
چـــې پـــه هـــېڅ جـــوړ تـــرې خلاصـــېد ے نشـــي صـــبا د پـــاره"[۱۳]

او بيـا د پښـتون سـماج د پابنـدو او قـدغن پـه مـاحول کښـې د يـوې پښـتنې خـور نـورو خوئېندو ته پېغام ځۀ وي - او په دغـه مـاحول او سماج کښـې د ښـځينه رشـتو سره د نارينـه رشـتو سلوک او تړون ځۀ وي - سيده بشـريٰ بېگم د خپـل سـماج دغـه قـدغنونو کښـې د پښـتني خـور او

پښتنې باشعوره او باضميره تورسرې اواز په خپل نظم "د پښتنې خور فرياد" کښې داسې څرګندوي.

"مــــه ژاړه زړۀ دلتـــه کښـــې اوښـــکې تويـــه ول منـــع دي
د ســــرحد ښـــځو تـــه اخبـــار کتـــاب کتـــل منـــع دي
قومونـــه تـــول کـــه کـــوي قـــدر د بېـــدارو ښـــځو
زمـــــونږ د قـــــوم د زنـــــانو ويښـــــول منـــــع دي
حقـــوق زمـــونږه هضـــموي خـــو اُف کـــولے نـــه شـــو
د حقيقـــــت نـــــه د اســـــلام هـــــم خبريـــــدل منـــــع دي
کـــه د دنيـــا ښـــځې خـــدمت کـــوي د قـــوم و وطـــن
مـــونږ تـــه پـــه کـــور کښـــې د مضـــمون شـــعر ليکـــل منـــع دي
د ظلـــم زور ســـلوک بـــه تـــل کېـــږي د ښـــځو ســـره
فقـــط پـــه خولـــه د انصـــاف لفـــظ اخســـتل منـــع دي
پـــه زنځيرونـــو د ذلـــت مـــولاس د ښـــپې تړلـــي
خلقـــه پـــه زور بانـــدې ددې زنځيـــر شـــلول منـــع دي
د تنـــزل پـــه غـــار کښـــې يـــو بـــه ســـرنګونه پرتـــې
لـــه دغـــې تـــورې کنـــدې ســـر پورتـــه کـــول منـــع دي
چـــې د خـــزان وېـــره بـــاقي ده خوشـــحالي مکـــوه
ګلابـــه تـــا لـــره پـــه ډکـــه خولـــۀ خنـــدل منـــع دي"(۱۴)

يوې پښتنې خور ته د تعليم او شعوري بېدارۍ سره سره د حيا او ننګ درس داسې ورکوي.

"اے زمـــا پښـــتنې خـــورې تـــه خبـــر شـــه
تـــۀ پـــه شـــان د هغـــه تـــر کـــو د دختـــر شـــه
د هـــر چـــا پـــه مخکښـــې تـــه ئـــې خـــس خزلـــې
ســـر کـــړه پورتـــه تـــۀ د مـــنځ دريـــاب ګـــوهر شـــه
د اســـــلام پـــــه ښائســـــته اصـــــولو پـــــوې شـــــه
هـــــرے پـــــاڼې د تـــــاريخ تـــــه پـــــه نظـــــر شـــــه
پـــــه لبـــــاس او پـــــه زيـــــور بـــــه ښائســـــته نشـــــې
اراســـــته د نېـــــک خويونـــــو پـــــه زيـــــور شـــــه

قسما قسم فېشنونه فخر نه دے
ته د فخر د کارونو نه خبر شه
د تعلیم پیاله په شونډو باندې کېده
له تیارهٔ د جهالت نه رابهر شه
د قرآن په نور سینه کړه خپله ډکه
خور ونکے په وطن کښې د انور شه
بې خبر د قوم له حاله مه شه خورې
ور داخل د ملکې مینې په دفتر شه
د حیا عصمت پرده په ځان خوره کړه
په دنیا کښې ضرب المثل د اطهر شه
په حالت د نورو خلقو فکر اوکړه
ترقۍ کښې د هغو سره همسر شه
همېشه الوده زړهٔ په غبار مه شې
په تمام جهان ښکاره لکه د نمر شه
د یورپ ښځې په څهٔ دي له تازیاتې
سر کړه پورته د هغوي ځنې بهتر شه
دا تیارهٔ د جهالت کړه واړه لرې
لکه میاشت د څوارلسم روشن قمر شه
کړه کشتۍ د قومیت ګرداب هلاکه
ته ئې خورې رسونکې تر بندر شه"(۱۵)

او د نوي فېشن خوئېندو ته داسې ګویانه ده -

"د غریب قوم د حالته خورې تا بېګانه وینم
د مجاز په محبت کښې دې سر مال شکرانه وینم
په تعلیم او ترقۍ کښې سرګردان دي ټول قومونه
ستا د علم ذخیره کښې صرف ناول افسانه وینم

د قومونـــو دا کوشـــش دے چـــې پـــردي ســـره يـــو ځـــا ے کـــړو
زمـــونږ دوه خوېنـــدې پـــه کـــور کښـــې لـــه يـــو بـــل بېگانـــه ويـــنم
راشـــئ کـــړو د تـــن زېـــور چـــې مـــونږ نـــن ښائســـته اخـــلاق
بـــې زيـــوره ښائســـته زۀ پـــه نېـــک خـــوئ زنانـــه ويـــنم
بـــې فائـــدې فضـــول خرچيـــو صـــومالي حالـــت تبـــاه کـــړو
بيـــا راتلـــونکے ژوند زمـــونږه يـــو تاريـــک زمانـــه ويـــنم
پـــه اخـــلاص ښـــځې ســـړي ټـــول د عمـــل مېـــدان تـــه اوځـــئ
د دنيـــا نـــوي چمـــن کښـــې نـــوې دا ترانـــه ويـــنم
د اســـلام د محبـــت بيـــا تـــه دنيـــا تـــه ثبـــوت ورکـــړه
پـــه ســـپين مـــخ د شـــمع زار زۀ هـــر عاشـــق پروانـــه ويـــنم
د انســـان د ژوند مقصـــود ټـــول د الله رضـــامندي ده
بـــې خبـــر لـــه خپـــل مقصـــده زړه د تابُـــت خانـــه ويـــنم"(۱۶)

سيده بشريٰ بېگم د ښځينه نفسياتو گڼو اړخونو ته اشارې کړې دي - په پښتنه معاشره کښې د ښځو مظلوميت ئې هم بيان کړے دے خو ورسره د ښځو ځنو ناوړه روئيو ته ئې هم اشارې کړے دي -لکه د بد خويه ښځې نا وړه رويې چې په دې نظم کښې بيانوي -

"مـــدام لـــه امـــدن کـــړې خـــرڅ ســـوا يـــو پـــه ځلـــور
بـــد خويـــه ښـــځه خـــداې مـــه ورولـــه د چـــا پـــه کـــور
مـــا اوليـــدې شـــريفې چـــې کـــوي خـــوئ د رِذال
هـــيڅ خيـــال نکـــړې د کـــور د صـــفايۍ نـــه د ســـنبال
تـــل کـــړې غـــم د صـــابون عطـــر چـــې اوي شـــي تـــر کـــال
ددې د پـــاره غـــم شـــي کـــه څـــۀ کـــم شـــي يـــو مثقـــال
کمـــے چـــرې رامـــه شـــه د فېشـــن د ټېنـــگ ټکـــور
بـــد خويـــه ښـــځه خـــداې مـــه ورولـــه د چـــا پـــه کـــور
لـــږ کـــار ډېـــرې خبـــرې د هـــر څـــۀ ســـره وېنـــا کـــړې
د کـــار پـــه وخـــت بـــه يـــا ځـــان جـــوړه وي يـــا بـــه خنـــدا کـــړې
ورانېـــږي بـــه ئـــې کارونـــه دا مجلـــس بـــه جوړلـــه چـــا کـــړې
عبـــث خوشـــې خبـــرې عيـــب جـــوئي بـــه زمـــا ســـتا کـــړې

د ژبــــې پــــه ســــر دې نیــــولې وي بــــل تــــه پیغــــور
بــــد خویــــه ښــــځه خــــدائ مــــه ورولــــه د چــــا پــــه کــــور"[۱۷]

ددې پورته اوږد بحث په نتیجه کښې مونږ وئیلې شو چې س. ب.ب یوه باشعوره پښتنه شاعره ده. هغې پخپله شاعرۍ‌کښې د پښتنو زنانه ؤ هغه مسلې او ستونزې رانغښتې دي کومې چې د هغې نه وړاندې بل هیچا هم نه دي بیان کړې، په دغه حواله سیده بشرې' بیگم که یو اړخ ته یوه زړوره لیکواله ده نو بل اړخ ته د هغې دا عمل دا هم ثابتوي چې هغې د راتلونکو پښتنو لیکوالو زنانه ؤ دپاره یوه لار هم وټاکله او هغوي ډاډه شوې چې خپلې ټولنېزې، ستونزې په خپلو اشعارو یا نورو نثري لیکونو کښې په ازاد مټ بیان کړي.

# حواله جات


(۱) خلیل، همېش ، د قلم خاوندان ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي پښتو ادبي بورډ پېښـــور ، ۱۹۹۹ء ، ص ، ۶۵

(۲) خلیل، همېش ، پښتانۀ لیکوال (اول ټوک) ، یونیورسټي پبلشرز پېښور ، جولائي ۲۰۱۰ء ، ص: ۳۹۱ ، ۳۹۲

(۳) مسافر، فرمان ، اخونزاده ، مکتبۀ اباسین چارسده ، اګست ، ۱۹۸۴ء، ص: ۴۰۶ ، ۴۰۷

(۴) شاه جهان ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي ، ۱۹۹۳ء ، ص : ۱۹۷

(۵) ایضاً، ص: ۱۹۷ ، ۱۹۸

(۶) راز، سلیم ، تنقیدي کرښې ، ص: ۸۶ ، ۸۷

(۷) ایضاً، ص: ۹۷

(۸) س ب ب ، زېرے ، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ، ۱۹۸۶ء ، ص: ۸

(۹) ایضاً، ص: ۱۱ ، ۱۲

(۱۰) ایضاً، ص: ۱۲

(۱۱) س ب ب ، زېرے ، ص : ۳۹

(۱۲) ایضاً ، ص: ۶۰

(۱۳) ایضاً، ص: ۱۱۷

(۱۴) ایضاً، ص: ۱۱۴

(۱۵) ایضاً، ص: ۱۲۳ ، ۱۳۵

(۱۶) ایضاً، ص: ۱۳۳

(۱۷) ایضاً، ص: ۱۳۴ ، ۱۳۵